**مطبوعاتي اعلامیه**

**دوی له ماشومانو ویرېږي... له یوه لوی مسلمان پوځ سره به څه کوي!!؟**

**(ژباړه)**

د اشغالګر یهودي دولت ځواکونو له هبېران (الخلیل) ښار نه د ملک صبډر په نوم یوه اته کلنه ماشومه وروسته له هغې له ځان سره وړې چې د دغې نجلۍ پر کور یې چاپه وهلې او پلار ته یې ویلي چې له دغې نجلۍ نه ځکه پوښتنې ګروېږنې کېږي چې په هغه ځای کې مېشتو شوو کسانو ته په مزاحمت تورنه ده.  له دغې پېښې وړاندې، د العسویه ښار یو شپږ کلن ماشوم، قیس فیراس عبید، هم په دې بهانه د پوښتنو او ګروېږنو لپاره غوښتل شوی و چې ګواکي په ښار کې د اشغالګرو ځواکونو ګزمه کوونکي موټر یې په ډبرو ویشتلي. دا پیښه له هغې پېښې سره په یوازې څو ساعته تفاوت رامنځته کېږي چې د محمد رابي الاینه په نوم یو څلورنیم کلن ماشوم په بیت المقدس کې د اشغالګرو پولیسو مرکز ته د تحقیق لپاره په عین بهانه راوړل کېږي.

اشغالګر د مبارکې خاورې-فلسطین د خلکو پر وړاندې خپلو هر ډول وحشي سیاستونو ته ادامه ورکوي، د ماشومانو نیول او له دوی نه تحقیق د دغه جنایتکار سیاست د لړۍ یوه برخه ده، دوی پر ټول هغه څه پښه ږدي چې بشردوستي او د بشر او ماشومانو حقوق یې بولي.  د دې پر ځای، چې د فلسطین د مبارکې خاورې د خلکو پر وړاندې د دغو اشغالګرو زور زیاتي ته د پای ټکی کېږدي، دوی یوه ماشومه نجلۍ دغو جنایتکارانو ته د مزاحمت په تور د پوښتنو او ګروېږنو لپاره نیسي!

د احصایې له مخې، له یهودي دولت سره په ۵۷۰۰ نیول شوو فلسطینانو کې ۲۳۰ ماشومان دي، هغه ماشومان چې د محکمه کولو لپاره یهودي محکمې ته تسلیم کړل شوي، ډېری یې د بیت المقدس اوسیدوونکي دي، چې د ډبرو ویشتولو په جرم نیول شوي. د ۲۰۱۵ کال په جون په کې، د  اسرائیلو پارلمان یو قانون تصویب کړ، چې له مخې یې د هغه کسانو د بند موده تر شلو کالو پورې وغزول شوه چې د ډبرو ویشتلو په تور نیول کیږي. همدا راز د وزیرانو شورا، چې د پولیسو او امنیتي چارو سمبالوونکې ده، پولیسو ته، د ډبرو ویشتوونکو پر وړاندې د ډزو کولو اجازه ورکړه.

یهودي دولت د نړۍ په کچه یوازېنی هغه دولت دی، چې په نظامي محکمو کې پکې ماشومان محاکمه کیږي، سره له دې چې د نړۍ ټول مقرر قوانین د دې کړنې پر ضد دي. د بېلګې په توګه د بشري حقوقو لپاره ټولې نړیوالې هوکړې، په ځانګړې توګه د ماشومانو د حقوقو نړیوال کنوانسیون یا (UNCRC) پر دې ټینګار کوي چې ماشومان دې وساتل شي، ژوند دې یې وژغورل شي او د لوبېدو او پرمختګ فرصتونه دې ورته برابر شي. دا ټول قوانین او هوکړې له ماشومانو څخه د دوی د آزادیو اخستلو پر ضد دي. خو سره له دې، اشغالګر، فلسطیني

ماشومان د دوی په مقدسه خاوره کې وژني او بندیانوي يې. نو که دوی له هغو ماشومانو وېرېږي چې عمر يې د يوه لاس له ګوتو هم کم دی، پر دغو ماشومانو فشار راوړي چې غيرتي او پر خپل دين وياړ کوونکي لوی نه شي او د دوی ريښې له منځه يو نه سي، نو دوی به څه کول که يې پر وړاندې يو لوی پوځ وی چې پر خدای ټينګه عقيده او کلک عزم لري!!؟

نو، اې مسلمانانو! دا يهوديان دي او دا د دوی اردو، چې نالايق حکام يې په دوامداره توګه هڅه کوي چې ځان نه ماتېدونکی وښيي، هغه اردو چې په ښار کې د ماشومانو پر نيولو پسې ګرځي!! دوی يو ماشوم، چې د خپل عمر څلورم پسرلی يې هم نه دی پوره کړی، د پوښتنو او ګروېږنو لپاره په نښه کيږي؛ په داسې حال کې ستاسو حکام چې تاسو ترې راضي يئ، له دغو اشغالګرو سره د اړيکو عادي کول غواړي، قراردادونه ورسره لاسيک کوي او د دوی په خوښه سپک او شرمېدلي قوانين تصويب کوي.

په عين حال کې، دا دي د فلسطين ماشومان چې له ماشومتوبه د يوه زمري په څېر عمل کوي. يوازې دوی يو داسې دولت ته اړتيا لري، چې دوی رهبري کړي او دې ته يې پرې نږدي، چې له خپل مسير او هغه نقشې جوړلو څخه واوړي، چې د اشغال د ختمولو لپاره يې کاروي، تر څو فلسطين آزاد او يو ځل بيا د مسلمانانو لاس ته ورشي. دا به يو ستر لښکر وي، چې د يوه ساتونکي رهبر له لوري به د هېواد د ازادولو لپاره د الله سبحانه وتعالی په اراده سره رهبري کيږي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه**

**۱۴۴۰ هـ ق د ذولهجې ٦مه**

**۲۰۱۹م کال د اګېسټ ۷مه**

**ګڼه: ۱۴۴۰/۴۰**